AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۶/۱۰/۱۵

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(اووه دېرشمه برخه)



(جنرال عاصم منیر چې د قسیم فهیم او رشید دوستم په څېر سیاسي مارشال هم دی)

## پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۳۳)

## له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۶)

## جنرال سید عاصم منیر احمد شاه[1]: (له ۲۰۲۲ز. کاله، تر دې دمه. (۱)

سید عاصم منیر لکه د پاکستان د نورو ستردرستیزانو په څېر یو **پنجابي جنرال دی**، د هغه پلار سید سرور منیر، په ۱۹۴۷ز. کال کې د هند او پاکستان د وېش پر مهال، له خپلې کورنۍ سره د هندي پنجاب له جلندر ښار څخه پاکستان ته کډه شوی ؤ او په پای کې په راولپنډۍ کې مېشت شو چې همهلته، په ۱۹۶۷ز. کال کې عاصم منیر وزیږید.
جنرال عاصم منیر ځان یو پنجابي سید معرفي کوي، د تاریخ په اوږدو کې د هند د نیمي وچې ځینو وګړو خپلې شجرې په لوی لاس اړولي او تر عربو یې رسولي دي، حقیقت دا دی چې دا ډول ډېر جعلي سیدان شته چې د دوی پلرونه، عربو، پښتنو او مغلو فاتحینو په خپلو لښکرو کې د مریانو (غلامانو) په توګه هند ته راوستلي وو چې بیا په سیمه کې پاتې شوي دي.

[1]: پنجابیان خپل وياړلي تاریخي شخصیتونو او اتلان نه لري، دوی پر خپلو بالستیک توغندیو د افغانستان د تاریخي پاچاهانو او امپراتورانو (چې د هند فاتحین وو) نومونه ایښي دي، پاکستان د احمد شاه بابا نوم (ابدالي) پر خپل یو لنډواټنه بالستیک توغندي ایښی دی؛ د غزنوي سلطان محمود نوم (غزنوي) یې پر یو بل لنډواټنه توغندي ایښی او یو بل منځنۍواټن ویشتونکی توغندی یې د (غوري) په نوم نومولی دی، یو بل توغندی د بابر په نوم بولي، ظهیرالدین بابر چې د هند ترک توکمه امپراتور ؤ، بیا هم د هغه مړیستون په کابل کې دی. دغه د هند فاتحین، پرته له بابر څخه د افغانانو پاچاهان او امپراتوران دي، دوی پر پنجابیانو پورې هېڅ تړاؤ نه لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په هند کې دویم ډول سیدان هغه کسان دي چې نېکونه یې ځایي هندان وو، په ځانګړي توګه، د هندوانو د لوړې پوړۍ (طبقې) برهمنانو او پنډتان.
د دې لپاره چې دا ډول سیدان د اسلام په دین کې لوړ ځای ولري نو د دوی زامنو ځانونه په عربو پورې تړلي او د وخت په تېریدو سره یې خپل نېکونه سیدان معرفي کړي دي. چې د جنرال عاصم منیر نېکونه له همدغو دوه ډوله جعلي سیدانو: د هند د فاتحینو غلامان او یا د ځایي مسلمان شویو هندوانو څوځات (اولاده) ده.

د هندوانو د پنډتانو د مسلمانیدلو په اړه تر ټولو یو مشهور کتاب **(کل کي اوتار اور محمد صاحب)** دی چې د هند د الهآباد پوهنتون د سنسکریت ژبې پوه، نوموتی هندي پروفیسور **(پنډت ویدا پرکاش اپادهیای)** لهخوا لیکل شوی دی.
د توکم او پوړیو د بدلولو په هکله د هند په اترپردېش ایالت او د هند په نورو سیمو کې یو متل هم شته چې وایي:
**(پہلے سال جولاہا، اگلے سال شیخ، اب کے بار غلہ سستا رہا تو سید ہو جائیں گے.)**

**ژباړه:«لومړی کال اوبدونکی وم، راتلونکی کال به شېخ شم او که دا ځل غله ارزانه او حاصلات ښه وي نو سید به شم.»**[2]
له دې متل څخه څرګندیږي چې څرنګه په هند کې وګړي او کورنۍ د مالي او ټولنیز حالت په ښه کېدو سره خپل پېژاند له یوې ځایي ټیټې پوړۍ څخه په تدریجي توګه تر ټولو لوړ توکم (سیدانو) ته رسوي.

که څه هم دا ډول خلک ظاهراً خپل توکم بدل کړي او ځانونه سیدان بولي خو په خویونو او کړنو کې یې ډېر بدلونونه نه راځي او د خپلو پخوانیو هندي توکمه نیکونو او غلامانو عادتونه په کې پاتې دي چې ښه بېلګه یې جنرال پرویز مشرف او د هغه کورنۍ ده.[3]

په جنرال عاصم منیر کې د خپلو نېکونو چې غالباُ، غلامان به وي، ځیني د غلامۍ خویونه شتون لري چې یوه بېلګه یې امریکایانو ته له کچې پورته خدمتونه او غوړه مالي ده(چې وروسته به پرې وغږیږو).

جنرال منیر، وړاندې له هغې چې خپله ډيابن‌اې معاینه کړي او پوه شي چې هندو دی که عرب سید؟ په کلکه توکمپالنه پالي او په دې هکله ډېر افراط کوي، هغه «د ۲۰۲۵ز. کال د اپریل په ۱۷مه نېټه، وویل: زموږ پلرونو ویل چې **موږ د ژوند په هر اړخ کې له هندوانو سره توپیر لرو. زموږ دین، دودونه، فکرونه او زموږ موخې له دوی سره توپیر لري. همدا د دوو ملتونو د نظریې بنسټ ؤ چې هلته [په هند کې] کېښودل شو. موږ دوه ملتونه یو، موږ یو ملت نه یو.»**[4]

د جنرال منیر د دا ډول څرګندونو په غبرګون کې ټولنیزو رسنیو، په ځانګړي توګه هندي رسنیو وویل چې **د عاصم منیر پلار او نېکه اصلاً هندوان وو چې وروسته مسلمان شوي دي.**[5]

جنرال منیر ته زموږ مشوره دا ده چې ته لومړی خپل د DNA معاینات وکړه تر څو د خپلو نیکونو توکم درته څرګند شي چې هندوان وو که مسلمانان؟ او بیا توکمپالنه کوه، هسې نه چې خپل هندو توکمه قوم په ناپوهۍ کې سپک او تخریب کړې.

---

[2]:https://journals.sagepub.com/doi/10.1177/23944811251337286?int.sj-abstract.similar-articles.5
[3]: په اړه یې د لیکنو ۳۰مه برخه ولولئ.
[4]https://news.abplive.com/news/world/pakistan-army-chief-rakes-kashmir-says-we-re-different-from-hindus-1765758
[5]:https://www.facebook.com/watch/?v=897338020099228


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

## زده کړې

عاصم منیر د مدرسي یو طالب ؤ چې خپلې لومړنۍ دیني زده کړې یې د پنجاب د راولپنډۍ په مرکزي مدرسه دارالتجوید کې ترلاسه کړې دي.

عاصم منیر په جاپان کې د جاپان د ځمکنیو ځواکونو په پوځي ښوونځي او د **(تاکیګاهارا)** کمپ اړوند پوځي او مسلکي زده کړې کړې دي.

هغه د بلوچستان د کوټې له کمانډ او سټاف کالج؛ د مالیزیا په کوالالمپور کې د وسله‌والو ځواکونو کالج او د اسلام‌آباد له ملي دفاعي پوهنتون څخه فارغ شوی دی. نوموړي په عامه پالیسۍ او ستراتیژیک امنیت په برخه کې د فلسفي ماسترۍ (MPhil) سند هم تر لاسه کړی دی.

هغه مهال چې عاصم منیر، ډګرمن ؤ، په سعودي عربستان کې یې د خپلې دندې پر مهال قرآن کریم حفظ کړ.[6]هغه په پاکستان کې د پوځ لومړنی ستردرستیز دی چې قرآن کریم یې حفظ کړی دی. کله چې پر دریځ خپلې خبرې پیل کوي نو لومړی د قرآن حکیم ایتونه لولي او «تر ډېره په خپله مورنۍ پنجابي ژبه خبرې کوي.[7]

**جنرال عاصم منیر، د آی‌اېس‌آی ریاست:** د جنرال منیر مهمه دنده د پاکستان د استخباراتو (ISI) د مشر په توګه ټاکل وو چې په ۲۰۱۸ز. کال کې د ستردستیز جنرال باجوه په سپارښتنه او د لومړي وزیر عمران خان په منظورۍ ټاکل شوی ؤ خو «د ۲۰۱۹ز. کال د جون په ۱۶مه نېټه، د عمران خان له‌خوا ګوښه کړای شو او پر ځای یې ډګر جنرال فیض حمید وټاکل شو.»[8]

**جنرال منیر او د پاکستان د ستردرستیز مقام:** لکه څرنګه چې عمران خان د پوځ په مرسته د پاکستان لومړي وزارت ته رسیدلی ؤ، همداسې د پوځ له‌خوا په نامخامخ توګه له دندې ګوښه کړای شو او د ده پر ځای یې په ټاکنو کې له شهباز شریف (چې د پخواني لومړي وزیر نواز شریف ورور دی) مرسته وکړه چې پایله کې شهباز شریف لومړی وزیر شو.

شهباز شریف چې د عمران خان سخت مخالف ؤ، غوښتل یې داسې څوک د پوځ د ستردرستیز په توګه غوره کړي چې په راتلونکي کې له ده ملاتړ وکړي او عمران خان او ګوند یې وځپي. دا ډول کس جنرال منیر ؤ چې عمران خان د آی‌اېس‌آی له ریاست څخه ګوښه کړی ؤ.

هغه وو چې د لومړي وزیر شهباز شریف او د هغه د ورور نواز شریف په ګډون له نارسمي سلا مشورو وروسته، جنرال عاصم منیر د ۲۰۲۲ز. کال د نومبر په ۲۴مه نېټه، د پوځ د ستردرستیز په توګه وټاکل شو. جنرال منیر د نومبر په ۲۹مه نېټه، د پوځ د ستر درستیز دنده په رسمي توګه پیل کړه.

## د جنرال منیر پر وړاندې ستونزې او خنډونه

[6]: https://www.thehindu.com/news/international/syed-asim-munir-the-spymaster-turned-army-chief/article66188878.ece
[7]: https://www.arabnews.com/node/2410641/amp
[8]: https://nation.com.pk/17-Jun-2019/reshuffle-in-army-top-brass

د پاکستان پخوانی لومړی وزیر، عمران خان چې په روغتون کې بستر ؤ، د جنرال منیر د ټاکلو مخالفت وکړ. جنرال منیر په داسې حال کې د پاکستان د پوځ مشرۍ پر غاړه واخیسته چې پاکستان له سخت اقتصادي کړکېچ؛ د عمران خان له سیاسي مخالفت او د وسلهوالو له زیاتیدونکو ګواښونو او بریدونو سره مخ ؤ. چې دغو درو ډوله ستونزو له جنرال منیر او حکومت څخه لاره ورکه کړې وه. کله چې د پاکستان پخوانی لومړی وزیر **عمران خان د ۲۰۲۲ز. کال د نومبر پر ۳مه نېټه، د پنجاب ایالت په وزیرآباد کې د لاریون پر مهال په یو وسلهوال برید کې د ډزو له امله په یوه پښه ولګېد او ټپي شو.**
په دغه وخت کې د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر جاوېد باجوه ؤ. جنرال باجوه د هماغه میاشتې په پای کې (د ۲۰۲۲ د نومبر پر ۲۹مه) تقاعد شو او پر ځای یې جنرال عاصم منیر د پوځ نوی مشر وټاکل شو.
د عمران خان له ټپي کیدو، یوه ورځ وروسته د نومبر په ۴مه نېټه، هغه له روغتون څخه په خپله وینا کې د پاکستان لومړی وزیر شهباز شریف، د کورنیو چارو وزیر **(رانا ثناء الله)** او د استخباراتو لوړپوړی جنرال **(فیصل نصیر)** د خپل ترور په پلانولو تورن کړل.[9]
دا مهال چې عمران خان په روغتون کې بستر ؤ او د پاکستان د ستردرستیز د ټاکلو بهیر روان ؤ، عمران خان له روغتون څخه په خپلو ویناوو او مرکو کې په ډاګه کړه چې د شهباز شریف او د اصفعلي زرداري حکومت فاسد دی، هغه ټینګار کاوه چې دا یو ټپل شوی حکومت دی **او دغه ډول فاسد او غله مشران باید د پوځ د نوي مشر د ټاکلو واک او اجازه ونه لري،** عمران خان ویل چې د پوځ مشر دې د راتلونکو رښو ټاکنو څخه وروسته وټاکل شي.[10]

د پاکستان لومړی وزیر شهباز شریف، ولسمشر اصفعلي زرداري او د پوځ مشر جنرال عاصم منیر چې لا له وړایه عمران خان ته په اوبو کې خولې کېدل نو هغه په څو ډوله تورونو: **مالي فساد، د پوځ په کورنیو چارو کې مداخله؛ د پوځ او محاکمو بدناملو او د محرمو دولتي اسنادو په افشاکولو تورن کړ.** خو اصلي لاملونه هغه وو چې د عمران خان لهخوا د پوځ د **سرې کرښې** ماتول او د جنرال عاصم منیر سره د ۲۰۱۹ز. کال راهیسې شخصي او سیاسي مخالفتونه وو چې یو مهم عامل یې په راتلونکې کې د عمران خان لهخوا د جنرال عاصم منیر پر ځای د جنرال فیضحمید د پوځ د ستردرستیز په توګه ټاکل وو. [البته وروسته له هغې چې عمران خان په ټاکنو کې بریا ترلاسه کړې وای.]

هغه وو چې د پاکستان ستردرستیز جنرال عاصم منیر، د ۲۰۲۳ز. کال د مې په ۹مه نېټه، پخوانی لومړی وزیر عمران خان ونیو او بندي یې کړ چې له امله یې په ټول پاکستان کې پراخ ویجاړوونکي لاریونونه رامنځ ته شول او د پوځ پر ودانیو او نورو دولتي ادارو یې بریدونه وکړل. جنرال منیر او شهباز شریف چې د دا ډول حالت د رامنځ ته کولو په تمه وو، تر څو په دې توګه وکړای شي عمران خان او د هغه د ګوند غړي وځپي او په راتلونکو ټاکنو کې یې د ګډون مخه یې ونیسي.

**لاریونوالو په راولپنډۍ کې د پوځ عمومي قومانداني (GHQ) او په لاهور کې د کور کماندر (جناح هاوس) باندې بریدونه وکړل، هغه یې وسوځول او د ننه شته تاریخي اثار او وسایل یې لوټ او ویجاړ کړل.**[11]

[9]:https://www.dw.com/en/pakistan-imran-khan-speaks-out-after-assassination-attempt/a-63648165
[10]: https://www.bbc.com/persian/articles/cx8xwvg2819o
[11]:https://www.bbc.com/news/articles/cmkg79z04w4zo


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**ډېر شمېر موټر، امبولانسونه، د راډيو پاکستان ودانۍ او پوځي يادګارونه تر بريدونو لاندې راغلل او ډېرى يې وسوځول شول. په دې ناورينونو کې، لاريونوال او امنيتي ځواکونه، شاوخوا تر ۱۰ کسانو پورې ووژل شول.**[12]

د عمران خان د زنداني کېدلو لپاره چې جنرال منير ته ښه پلمه په لاس ورغلې وه نو پوځ، د ۹مې نېټې، د لاريونونو کړنې **د سرې کرښې ماتول وبلل** او پرېکړه يې وکړه چې عمران خان بايد د سياست له ډګره لېرې او په زندان کې وساتي.
جنرال منير، د عمران خان پلويان ډېر سخت وځپل. تر لاريونونو وروسته پوځ، د عمران خان ګوند، (تحريک انصاف) د مشرانو په ګډون له ۲۰۰۰ زيات کسان ونيول او د هغوی محاکمه په پوځي محکمو کې پيل شوه.[13]
ملکي وګړي د پوځ لهخوا محاکمه شول، يو لوړپوړی جنرال اړ شو له وخته مخکې تقاعد شي او د آیاېس‌آی پخوانی مشر، ډګرجنرال فيض حميد (چې يو مهال يې له عمران خان سره نږدې اړيکې لرلې) هم ونيول شو.[14] چې لا تر دې مهال عمران خان او جنرال فيض حميد په زندان کې بنديان دي.




نېټه:۱۴۰۵/۷/۲۲ل. ل

**نور بيا**

[د ښاغلی محمد انور اڅڼ نورې ليکنې په دې لينک کې ولولئ.]

[12]:https://www.rferl.org/a/pakistan-trials-khan-party-unrest/33248229.html
[13]: https://www.reuters.com/world/asia-pacific/why-has-ex-pakistan-pm-khan-been-indicted-over-violence-may-9-2023-2024-12-05/
[14]: https://www.bbc.com/news/articles/c39j3p14mg4o


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ